# د والدین لاربنود

پہ بیروم کې د کډوالۍ سازمانونو لخوا راټول شوي
- د والدین لخوا، د والدین لپاره



تاسو د والدین په حیث
څه کولی شئ ترڅو
مو ماشومان له منفي
چاپیریالونو وژغورئ؟

BÆRUM KOMMUNE

SLT

POLITIET
ASKER OG BÆRUM POLITIDISTRIKT

تاسو مرسته ترلاسه کولی شئ. د مرستې غوښتلو سره تاسو کولی شئ خپل ماشوم او کورنۍ لپاره غوره راتلونکي څخه ډاډ ترلاسه کړئ.

د مرستې غوښتل نه خو خطرناک دي او نه هم شرمونکي. تاسو ښه مور یا پلار یاست حتی که د مرستې لټه وکړئ. موږ ځینې وختونه مرستې ته اړتیا لرو.

که تاسو اندیښنه لرئ، مهرباني وکړئ اړیکه ونیسئ:

| | |
|---|---|
| د خپل ماشوم ښوونځي کې مشاور، د اړیکې ښوونکي یا نرس سره | |
| د ماري پلاهت کورنۍ او فعالیت مرکز | تلیفون: 920 34 629 |
| په بیروم کې د ماشومانو ښیګڼې خدمات | تلیفون: 67 50 68 00 |
| له پولیسو څخه د مخنیوي همغږي | تلیفون: 67 57 69 12 |
| د بیروم ښاروالۍ کې د جرم او مخدره توکو مخنیوي همغږي | تلیفون: 67 50 32 15 |
| د ځوانانو لپاره تولنیز خدمت Utekontakten | تلیفون: 67 55 10 20 |
| د ماشومانو، ځوانانو او والدین لپاره وړیا اړیکه | تلیفون: 116 111 |

د ماشوم سره خبرې، مشوره او مشورتي خبرې اترې ځانګړې وضعیت، ورسره مخ شوي ننګونو او خپله د ماشوم سره اړیکو پورې تړاو لري.

په بیروم کې د کډوالۍ سازمانونه 2015 ©

هیڅ چمتو حل شتون نلري چې په هرحالت کې د سم شي ترسره کولو لپاره وي. ډیرۍ ځله، د ماشومانو لپاره ډاډ دلودل چې دوی خوښ دي ترټولو غوره لاره د هغوی په رالویدو کې د والدین په فعال ډول برخه اخیستل دي.

موږ یو ساده لاربنود راټول کړی چې تاسو یې د دې چیک کولو لپاره کارولی شئ چې ایای د ماشوم لپاره مو هرڅه سم روان دي.



## سور

تاسو د خپل ماشوم ښوونځي، نورو والدین یا د هغه ملګرو سره هیڅ اړیکه نلرئ.

ماشوم مو تاسو سره د اړیکي نیولو مخه نیسي او داسي شیان تاسو ته وايي چې فکر کوئ ریښتیا ندي.

ستاسو ماشوم داسي شیان لري چې لپاره یې تاسو پیسي ندي ورکړي.

ستاسو ماشوم په وخت سره کور ته نه راځي.

ستاسو ماشوم له ښوونځي ډیر غیر حاضر وي.

ستاسو ماشوم په لنډه موده کې خپل چلند بدل کړی.

ستاسو ماشوم په اوسلو کې ډیر وخت تیروي غیر لدې چې تاسو پوهه شئ ولې.

**تاسو باید هرو مرو اندېښنه ولرئ. د مرستې او لارښود په لټه کې شئ.**

## ژیړ

تاسو د ښوونځي، کورنی دندې یا نور والدین سره اشنا نه یاست.

تاسو نه پوهیږئ د خپل ماشوم درجي ښه کولو لپاره چیرې مرسته لاسته راوړئ.

تاسو د خپل ماشوم ملګري نه پیژنئ.

تاسو نه پوهیږئ چې ماشوم مو خپل آزاد وخت څنګه تیروي.

تاسو د خپل ماشوم سره آزاد وخت او د ښوونځي رخصتیو کې لږ وخت تیروئ.

تاسو نه پوهیږئ چې ماشوم مو څنګه انټرنیټ او د هغه/هغې ګرځنده تلیفون کاروي.

تاسو د خپل ماشوم چلند، کالو او ژبه کې بدلونونه وینئ، پرته لدي چې پوهه شئ ولي.

ستاسو ماشوم په وخت سره کور ته نه راځي.

ستاسو ماشوم له ښوونځي د مخ په ډیریدو حالت کې غیرحاضري لري.

تاسو وینئ چې د ماشوم سره مو خبرې خورا کمې شوي دي.

**تاسو باید اندیښمن شئ. د خپل ماشوم سره وغږیږئ او د مشورې او لارښود په لټه کې شئ.**

## شين

تاسو د ښوونځي، کورنی دندې او نورو والدین سره ښه اشنا کیږئ. تاسو په ښوونځي کې په ناستو کې ګډون کوئ.

تاسو پوهیږئ چې څنګه مو ماشوم سره د ښوونځي مضامینو کې مرسته وکړئ.

تاسو د خپل ماشوم ملګري او د دوی والدین پیژنئ.

ستاسو ماشوم یو آزاد وخت او د ښوونځي رخصتي لري چې تاسو یې یوه برخه یاست.

تاسو خپل ماشوم سره وخت تیروئ او په ګډه ساتیري کوئ.

تاسو پوهیږئ چې ماشوم مو څنګه انټرنیټ او خپل ګرځنده تلیفون کاروي.

تاسو پوهیږئ چې څه وکړئ که ماشوم مو ځورول کیږي یا نور ماشومان ځوروي.

تاسو پوهیږئ چیرې مرسته لاسته راوړئ که د کورنی په اړه مو اندیښني لرئ.

**اندیښني ته اړتیا نشته.**